# د کلماتو مرګ او ژوند

هره کلمه کورنۍ، پلار و مور، ژوند، اجتماع، هلکينه، ځلميتوب، لوبښت او مرګ لري. د ژبې په ادبي وده کښې هم ټول دغه مواد په غور کتل کيږي او ډېر اهميت لري.

د ژبو کلمات کټ مټ داسي دي لکه ژوندي او عضوي اجسام چـي د ژوندانـه اکثـر قـوانين او ذ اجتمـاع ډېـر اصـول پـر دوي بانـدي تطبيـق کيـږي، او سـرى کـولاى سـي چـي د يـوې ژبـي کلماتو او لغاتو ته کورنۍ او پـلار و مـور او د ژوندانـه ټـول دودونـه او لوازم معين کړي.

په شلم قرن کښې لکه نور علوم او بشري پـوهني چـي پـر مثبتـو اساسو باندي درېدلي دي او پر تجربه او ليدنـه او مشـاهده بانـدي قرار مومي، دغسي هم ژبپوهني (فيلالـوژي) تقريبـاً مثبـت اساسـونه موندلي دي، او دا علم اوس د بشر په مهمو پوهنو کښې داخل دئ.

د ژبو پوهانو چـي د کلمـاتو د پيـدايښت او لوبښـت پـه سلسـله کښي کتنـي او مطالعـات او پلټنـي کـړي دي دوى دې نـتيجې تـه رسېدلي دي، چي ژبي کټ مـټ د ژونـدو اجسـامو پـه ډول دي او حياتي قوانين ټول پر ژبـو بانـدي جـاري دي، مګـر د دې جريـان ډول او شکل هسي دئ چي هر څوک ئې نـه سـي ليـدلاى. خـو د پوره علم او پوهني په مرسته سړى د ډېر دقت پـه سـترګه ورتـه ونـه ګوري، تر هغه پوري داسي دقيق مسايل نه ورمعلوميږي.



مثلاً د ژبو لغات او کلمات مختلفي او بېلي بېلي کورنۍ لـري تـر وضع او ارتجال او اشتقاق او نورو نورو عناوينو لاندي سـره بېليـږي، کوم وخت چي يوه کلمه له يوه معلوم پلاره موره پيدا سي، تـر څـو وختو پوري ژوندۍ وي، بيا مړه سي او اولاد او نسلونه ئې پاته وي.

تاسي وګورئ په پخوانيو آريائي ژبو کښي د (م، ن) عنصري تورو په مفهوم کښي د ارادې معنا پرته ده په سنسکريت کښي (من) زړه ته وويل سوه دا يو حياتي تحول دئ چي پسله زېږېـدو پـر دې کلمـه وسو ځکه چي د بشر قديم فکر او تعبير دا وُ چي (زړه) ئې د حرکـاتو او افکارو او احساساتو مرکز ګڼلـه نـو ئـې (زړه) د ارادې ځـاى هـم وباله، د مظروف نوم ئې پر ظرف کښېښو، او دې کلمې په خپل مـداو خپورتيـا او لغـوي اتسـاع او حيـاتي ودي شـروع وکـړه دا کلمـه د اشتقاق له کورنۍ څخه ده پلار او مور يعنی عناصر لغـوي او صـوتي ئې (م، ن) دي په هلکينه کښې ئې فقط د ارادې مفهـوم لاره، چـي ځلمۍ سوه او په لوبښت ئې پيل وکړ نو پر (زړه) هم اطلاق سوه پـه پښتو کښي هـم دا کلمـه د هغـه کوچنيتـوب او هلکينـي پـه مفهـوم مستعمله وه، (من) ئې ويل (ارادې) ته د اسلام پـه ابتـدائي دورو د (۱۴۰ هـ) په شاوخوا کښي دا کلمه په دغه معنـی پـه پښتـو کښـي وه، امير کروړ جهان پهلوان سوري په خپله وياړنه کښي وايي : "غشـي د من مي ځي بربښنا پر ميرځمنو باندي" په سنسکريت کښي دا کلمه د (زړه) په معنـی مسـتعمله وه او لکـه البيرونـي چـي تصريح کـوي د مظروف نوم ئې پر ظرف کښېښو، او دا د اجتماع او ژوندانه د تحول او اوښتني قانون وُ، چي پر دې کلمه جاري سو، او دا ئې معناً لويـه کړه، او ادبي توسعه ئې ور وباخښه.

غالباً دا کلمه په پښتو کښي وروسته قطعاً مړه سوه په يوه معنی نه سوه پاته، زړه او اراده ئې دواړه ولاړل، او د مـرګ تـر کلـي قـانون لاندي له ژبي څخه ووتله او ځاى ئې فقط (زړه) تـه پرېښـو. داسـي

معلوميږي چې د (زړه) کلمه هم په دغه معنی په پښتو کښې وه، خکه چې په اوستا کښې هم تقريباً دغه کلمه په دغه معنا وه نو د تنازع للحيات تر قانون لاندې گويا د زړه کلمه پر من غالبه سوه، (والحق لمن غلب) من مغلوب سو او زړه ئې پر ځای ودرېد.

خدای (ج) دې وبخښي د (من) کلمه مړه سوه، خو نښه اولاد او ډېر زامن ځيني پاته سول، دې پلار يو زوی درلود، (منل) چې په پښتو قبلولو او گرويدن ته وايي منل يعنی زړه ته کول، او په زړه دننه کول، چې د هغه قديم (من ـ زړه) سره ډېر نژديکې لري، ځو سړی يو فکر په زړه کښې دننه نه کړي تر هغو ئې قبلونه هم مشکله وي.

دا د بشر پخوانۍ اصطلاح ده چې زړه د افکارو او عقايدو مرکز گڼي، نو د قبلولو او گرويدن او عقيدت لپاره هم په پښتو کښې له (من) څخه (منل) جوړ سو.

له دې زويه څخه په ژبه کښې ډېره اولاده پاته سوه، چې اوس يو لوی کهول دئ، مثلاً:

١. منل
٢. منه
٣. منښت
۴. منگ
۵. منونکی
٦. منلی
٧. منی او نور ...

يو بل مثال :

په قديمو آريايي ژبو کښې د (و ـ د) عنصری توريو کښې د پوهني او علم او لوېښت مفهوم پټ وُ، تقريباً درې نيم زره کاله دمخه هم په ويدي ژبه کښې دا کلمه او مفهوم وُ،



له دې ريښې څخه د (ود) = (ويدا) کلمه پيدا سوه، چې د علم او پوهنې مفاهيم ئې لرل.

تر ميلاد (١۴٠٠) کاله دمخه چې آريايي اقوامو ځينې سندري درلودې او د هغو علمي او ديني معلومات هم دغه وه، نو دوی هغه سندري (ويدا) بللې چې وروسته هغه سندري د يوه کتاب په شکل سره ټولې سوې او تر اوسه ئې هم نوم (ود) د واو په کسره او د دال په فتحه دئ، (وده = ويده = ويدا) علماء وايي چې په سنسکريت کښې هم د (ود) ماده سته، د علم او پوهنې په معنی، چې دا نوم له دغې ريښې څخه دئ.

خلاصه د (و ـ د) له صوتي کورنۍ څخه (ويده) يا (وده) وزېږېده، چې په سنسکريت کښې هم معنی پوهنه وه.

خکه چې د پوهنې سره لوېښت او ارتقاء لازمه ده، او هر پوه سړی يا معناً يا مادتاً لوئيږي، نو (وده) چې په پښتو نشوونما ته وايي ورسره پيدا سوه، يا دا چې (وده) دمخه وه په سنسکريت کښې د قوي او شديد ملازمت له سببه مفهوم په پوهنه واوښت، او له ودې څخه.ډېر اولاد وزېږېدل او اوس ټول په ژبه کښې ژوندي دي.

د امير کروړ په خورا پخواني شعر کښې هم (ودنه) د نشوونما په معنی راغلې ده.

وگورئ په پښتو کښې (واده) عروسی ته وائي، چې د انسان د نسل نشوونما او لوېښت او زياتښت هم د واده سره تلازم لري، نو ځکه دې کار ته (واده) وويل سو، يعنی د ودې او تکامل او ارتقاء وسيله. له (واده) څخه :

١. ودول
٢. ودېدل
٣. ودون
۴. ودوونکی

۵. ودېدونکې
٦. ودېدونې
۷. ودېدون
۸. ودېدنه
۹. ودونه او نور ... زامن پيدا سوه، چي تر اوسه د ژبي د (و ـ د) په کورنۍ کښي اوسي او ډېر ښه کهول دئ.

مگر د دوی پلار اوس په ژبه کښي مړ دئ، او (ود) څوک نه وايي، او يوه پخوانۍ معنی چي (پوهنه) وه هم اوس مستعمله نه ده، مگر چي د پوهني سره تکامل او نشوونما تړلې ده نو اوس (وده) په دغو معناوو وايو.

په دې ډول د کلماتو د ژوندانه او مړيني ادوار او زمانې جاري دي، او هره کلمه ناچاره ده چي د ژوندانه د تحول او اوښتني په سلسله کښي مختلف اوقات او ادوار ووينې، وزيږي، لويه سي، ځلمې سي او په آخر کښي بيا له منځه ووزي، ادباء او نويسندگان او د ژبي پوهان بايد تل دکلماتو دغو دورو او تحولاتو ته ځير وي، ډېر داسي کلمات سته چي دوی ئې بايد له گوره نه راپاځوي. ډېر کلمات حق لري چي له انزوا څخه راوايستل سي. مثلاً موږ اوس نه سو کولای چي د (من) کلمه بيا د زړه په معنی مستعمله کړو، ځکه چي فطرت خپل کار کړئ دئ، او د هغې معنی پر ځای ئې (زړه) درولی دئ.

اما که موږ د (ارادې) لپاره مثلاً بله کلمه ونه لرو نو کولای سو چي د قديم (من) د دغي معنی لپاره مستعمل کړو. که څه هم اوس زموږ مستعمله (اراده) هم ښه کلمه ده، او په ژبه کښي داخله سوې ده او ضرورت هم نه لرو چي متروکه، مهجوره او نتلې کلمه ئې پر ځای ودروو.

کوم وخت چي د لوېښت او ودي پر موقع د کلماتو د شباب دوره وي ځينو لغاتو ته معنوی مداو وده وربښيري دا هم زما په



خيال غير شعوري وي او پخپله فطرت دا کار کوي، خو انسان ئې عامل او وسيله وي. نو د دې فطري کار سره مقابله هم داسي کار دئ لکه چي سړی کوچنی تينگ په اونی کښي تړي په دې فکر چي لوی نه سي، حال دا چي د دې فطري ودې جلوگيري هم نه سي کېدای، فطرت تل کائنات په خپله صبغه کښي اچوي او رنگوي ئې.

د دې خبري لپاره به هم زه يو مثال ووايم، چي ښه واضحه سي، (مرسته) په پښتو کښي پخوا د کومک او معاونت په معنی نه وه زما په خپله په ياد دي چي (۳۵) کاله پخوا دا کلمه په کندهار کښي په داسي ځايو کښي مستعمله ده:

"شپه مي ستا په مرسته تېره کړه." يعنی ستا په خيال ـ ستا په انتظار ـ ستا په فکر کښي. د ختکو په اصطلاح او محاوره کښي هم دغسي وه لکه په کندهار کښي، مگر دا هم وايم په کندهار کښي به دا کلمه هغو خلکو استعمالوله، چي د پښين او د سليمان د غره باد پر نښتی وُ، نو داسي معلوميږي چي دا استعمال په کاکړو او ختکو او هغو قبايلو کښي وُ چي دکسی د غره ها خوا دېخوا پراته وي، دا ادبي اسناد وگورئ: خوشحال خان ختک وايي:

يار دما څخه په کور دننه ناست وُ
زه بې روحه گرزېدم د ده په مرسته

بل ځای وايي:

د مقصود گوهر په لوی درياب کښي پرېوت
غواصان پکښي غوټې وهي په مرسته

بل ځای وايي:

اوس مي بيا مونده په کور کښي
چي دايم ئې وم په مرسته

بيا وايي:

خدای په کور کښې راکړه هغه توري سترګي مترکه
اوس به ئې په مرسته څه فرخار لره ورَ درومــــم؟

بيا وايي:

چې باز دي ولاړ سي چيري له لاسه
په غره په سمه کړې ورپسي مرسته

له دغو ټولو ادبي اسنادو ښکاره ثابتيږي چې مرسته د طلب، انتظار، غوښتني، کوښښ په معناو وه.

مګر وروسته چې تقريباً (۲۵) کاله دمخه په کابل کښې د پښتو مرکه جوړه سوه دې مرکې مرستې د معاون او ياور په معنی واخيست، او مرستوکی او مرستون او نور کلمات ئې ځيني جوړ کړل.

په دې نژدې لسو کالو کښې د مرستي معنی يو په يوه دکومک او معاونت په ډول واوښته او په مقالو او اخبارو او ټولو ليکنو کښي په دغو نوو معناو مستعمله سوه.

دا مداو معنوی لوېښت دې کلمې ته هيچا اراداتاً ورنکړ، په خپله فطرت ورکړ خو موږ هيڅ ملتفت نه يو او ژبه غير مرئی تحول کوي.

زما دا ليک او يادونه فقط د دې لپاره ده چي زه خپل ښاغلي لوستونکي دې خبري ته ملتفت کړم چي داسي تحولات او اوښتني پر ژبه خامخا راځي، خو ادباء او نويسندګي بايد د دې تحول مجری پر ښه خوا وګرزوي او ايله ئې نه کړي چي پر هره خوا بهيږي ودي بهيږي، او د هري ژبني کورنۍ کور چي ور خرابوي خراب دې کړي.

د ژبي د پوهانو او اديبانو او ليکوالو يوه مهمه وظيفه هم دغه ده چي داسي نزاکتونو ته ملتفت وي. (۱)

(۱) کابل مجله، کال ۱۳۲۴ لمريز، ۱۰ مه ګڼه، ۱ _ ۳ مخونه.